سرلوخ مرادزی ۲۰۲۲ / ۰۲ / ۲۷

جنتي کامه

جنتي کامه مې تل په زړه وریږي
تش په یاد یې زما تن کې سا چلیږي
وایم خاوره یې رانجه کړمه د سترګو
کاشکې هره ورځ یې ووینم په غبرګو
کامه ځای زما د زیږد، د وړوکتوب دی
د خپوړو، د تعلیم او سړیتوب دی
هلته کلی، هلته ولس هلته مې کور دی
هم دېره او هم حجره، هلته مې ګور دی
طبیعت کامې ته ټول ښایست بخښلی
لکه ناوې په ګاڼو یې پسوللې
که یې اوړی په ګرمی کې لږ دلګیر دی
منی، ژمی پسرلی یې بېنظیر دی
په کامه درې خوا ته سیند یوخواته غر دی
چاپیریال یې جوړ یونان ته برابر دی
طبیعت که غر اوسیند چا ته بخښلې
دا نعمت یې په ډېر لږو پیرزو کړی
په کامه شته ډېره زیاته د کر ځمکه
پاس په غره کې لري هم څه د څړ ځمکه
عربان که د زم زم اوبو ستایوال دي
تر زم زم خوږې اوبه د کاموال دي
وایي، جنت کې لوی باغونه د مېوو شته
خو کامه کې د میوو، هم د سبو شته
که ملا د جنت دنګې ونې ستایی
یا تر څنګ یې د اوبو نهرونه ښایي
په کامه کې دنګې ونې په دېرو شته
هیڅ کمی نه د بیالو، نه د نهرو شته
که په هند کې د ګنګا، جمنا سنګم شته
په کامه د کابلي، کونړي هم شته
دا دوه سینده په کامې کې یوځای کیږي
په کامه د دې سیندو سنګم جوړیږي
پردیسی په زولنو له پښو تړلی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کډوالۍ یمه له ژوند څخه ایستلی
په پردي وطن استوګنه مجبوریت دی
خپل وطن سړي ته هر وختي جنت دی
کامه ځمکې پر سر، خاوره د جنت ده
تر جنت څخه لا زیاته د صفت ده
یو صفت یې له زرګونو صفتو دی
هغه دا چې کامه ښه ځای د میلو دی
د ۲۰۲۲ کال د فبروری ۲۶مه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ